هفته نامه

جهاد هنداره

مراة الجهاد

PROPERTY OF ACKU

دوهم کال نهمه (پرله پسي ٦١مه) گڼه ، چهارشنبه د ١٣٧٠ هـ ش کال دعقرب ٢٢مه ، د١٤١٢ هـ ق جمادي الاول ٧ مه او د١٩٩١ م کال دنومبر ١٣مه نیټه

ولسوالی دولت آباد ولایت بلخ فتح گردید

بلخ ، ١٨ عقرب:
به اساس راپورهای واصله مجاهدین دلیر ولایت بلخ طی عملیات ٣ روزه خویش از ١٥ عقرب الی ١٨ عقرب توانستند ولسوالی دولت آباد آن ولایت را کاملاً فتح وتلفات زیادی به نیروهای رژیم وارد اوردند.
خبرمی افزاید:طی این فتح مجاهدین ١١ عراده تانك ، دومیل ماشنیدار دافع هوا ، ٦ عراده موتر لاری ، ٣ عراده جیپ ، ویك مقدار اسلحه ثقیله وخفیفه رابه غنیمت گرفتند .
همچنان مجاهدین طی این عملیات بیش از ٢٠٠ تن از افراد رژیم بشمول قوماندان خاد ، قوماندان خارندوی ، قوماندان قوای ملیشه وقوماندان کندك سرحدی مقیم دران ولسوالی رابه اسارت گرفتند .

یك هیات مجاهدین درراه دیدار از مسكو عازم عربستان سعودی شد

پشاور ، میدیا :
یك هیات مجاهدین تحت ریاست استاد برهان الدین ربانی رهبر جمعیت اسلامی ، غرض ملاقات ومذاکره با رهبران روسیه بعد از ظهر روز ١٧ عقرب ازاسلام اباد عازم جده گردید که بتاریخ ١٩ عقرب از انجا عازم مسکو می گردد.
دراین هیات مولوی محمد نبی محمدی رهبر حرکت انقلاب اسلامی افغانستان ، داکتر حشمت الله مجددی ، قاضی محمد امین وقاد ، ایت الله محسنی رهبرحرکت انقلاب اسلامی ، انجینر منصف وسید حامد گیلانی پسر سید احمد گیلانی رهبر محاذ ملی اسلامی بحیث اعضا شامل اند قابل یادآوریست که هیات رونده به مسکو از حمایت ٣ تنظیم بزرگ جهادی حزب اسلامی افغانستان (مولوی صاحب خالص) حزب اسلامی (حکمتیار) واتحاد اسلامی افغانستان محروم است ، وتنظیم های مذکور مذاکره با روسیه را در شرایط فعلی به ضرر جهاد ومجاهدین خوانده اند .

دافغانستان داسلامي حزب مشر مولوي محمد یونس خالص دبي ، بي ، سي له راډیو سره په مرکه کې :

روسیې ته دهیئت تګ دغندنې وړکاردی ، موږ ورسره هیڅکله هم موافقه نه کولای

په ٢ مخ کې

پنــــج فروند از طیارات جیت رژیم در میدان هوایی مزار شریف به اتش کشیده شد

مزارشریف ، ٩ عقرب :
بگزارش دفتر سیاسی شورای سرتاسری قوماندانان از شهر مزار شریف مرکز ولایت بلخ مجاهدین طی یك حمله راکتی بر میدان هوایی دهدادی آن ولایت پنج فروند از طیارات جیت جنگی رژیم رابتاریخ (٩عقرب) به آتش کشیدند .
طبق گزارش طیارات مذکور که از نوع جیت سو ومیگ که درپارك بودن کاملاً ازبین رفته وبر تاسیسات میدان نیز خسارات قابل ملاحظه وارد آمده است ولی از تلفات جانی ناشی ازین عملیات تاکنون اطلاعی بدست نرسیده است .

په بیروت کې دامریکا پوهنتون په بم والوزول شو

بم دیر قوی وو چې تقریباً ٢٠٠ کیلو گرامه بنودل شوی

په ٨ مخ کې

په فلپین کې وژونکي طوفانونه

٦٠٠٠ انسانان مړه او په لکونو نوربې کوره شوي

په ٨ مخ کې

په نیول شوي کشمیرکې د مجاهدینو او هندي پوځیانو ترمنځ نښتې

کشمیري مجاهدینو دسرینگرراډیو اسټیشن ویجاړ کړ

په ٨ مخ کې

په ګردیز کې مکار دښمن دماتې اوګریز په حال کې

دګردیز دمورچلونو دتودو جګړو راپورتاژ

په ٥ مخ کې

له آزاد خوست نه تر کلابند ګردیزه

په ٣ مخ کې

دحضرت سلمان فارسي (رض) دغند رئیس ارکان داکتر نصرت الله له جهاد هنداري سره په مرکه کي

دخوست دبریمنو عملیاتو تجربي زموږ دغند مجاهدینو ته د ګردیز په اوسنیو عملیاتو کي زیات بریالیتوب په برخه کړ

په دریم مخ

په مسکو کې د خوراکې موادو قلت

دخوراکي موادو داخیستلو لپاره په مسکو ، تاجکستان او دوشنبه کې د کوپون سیستم

په ٨ مخ کي

په آزادو شوو سیمو دملحد رژیم بې دریغه بمباري

٢٥ تنه مجاهدین اوعام استوګن شهیدان شول

په ٧ مخ کې

ملاقات بینن سوان با نماینده گان شورای سرتاسری قوماندانان

نماینده خاص سازمان ملل متحد طی ملاقات نکات جدید شامل شده در طرح سازمان ملل متحد رابه مسولین شورا توضیح کرد

درصفحه

د٧٤ مې کلیزې په لمانځلو سره. په روسیه کې کمونست ګوند له منځه وړل اعلان شول.

کمونست ګوند کوم قانوني اواصولي ګوند نه بلکې دجنایتکارانو یوټولې ؤ

دبوریس یلتسین خپره کړې اعلامیه

په ٧مخ کې

د«کې ، جي ، بي» ، «خاد» او«را» دیوه تخریبي پلان افشاء

په کراچۍ کې دیوې ورځې (٤) چاودنې دهمدې پلان یو جز و

په ٧ مخ کې

قیام مسلمانان در جمهوری فدراسیون روسیه برای خود مختاری

شورشیان میدان های هوایی راتصرف ویك طیاره مسافربری را گروکان گرفتند

درصفحه٧

سرمقاله

زموږ داسلامي انقلاب په وړاندې دطاغوتي ځواکونو ګډ سازشونه اوتوطئې

دیوه ستر هدف لپاره زموږ دمجاهد ملت پیل شوی پاڅون او اسلامی انقلاب دلوی خدای (ج) په مرسته او دمجاهدو افغانانو دبیدریغه قربانیوپه برکت داوسپنیز مقاومت په نتیجه کې له ډیرو ستونزورو پړاوو او کړاووتو بریمن راووت او دادی اوس دوروستی بری تردرشله رارسیدلی دی .
دانقلاب له پیله ترننه چې داسلام او مسلمانانو دښمنانو (الحادی اوکفری ځواکونو) ددغه پاڅون او مقاومت دغلی کولو ،ناکامولواوله خپل اصلي مسیر نه دمنحرفولو لپاره کومې شومې هلې ځلې کړي ، که یې په بیلو بیلو رنګونواو نیرنګونو دسیسی اوتوطئې طرحه او په عمل کې پلې کړې اوکه یې دزوراوزرو داستعمال له لارې دبرې په وړاندې نسبي خنډونه او خنډونه راپیدا کړي دي دهغه په ټول پس منظر خبرې کول ځانله اوږد بحث غواړي. دکفر الحاد اوفساد پرضد زموږ دمجاهد ملت په تش لاس خودکلك

په اتم مخ

کوم هیئت چې اوس دمجاهدینو په نوم له روسانوسره دخبرو اترو لپاره مسکوته ځي ، هغه دافغانستان دمجاهد ملت نمایندګي نه کوي

(دجهادي سنګرونو دقوماندانانو له ګډې اعلامیې ځخه)

جهادهنداره

موسس : الحاج مولانا جلال الدين حقاني
دتاسيس کال : ۱۳۶۹ هـ ش

یلتسین با چلینج جدید استقلال طلبی روبروست

سمیع الله «تازه»

بوریس یلتسین رئیس جمهور روسیه که در نتیجه کاروائیهایش در هنگام کودتای تندروان کمونست بحیث مدافع دموکراسی در روسیه تبارز یافته ومطبوعات غرب نیز یاروی خوش باوری ویا روی ملحوظات خاص سیاسی خویش موصوف رابحیث قهرمان دموکراسی در روسیه تبلیغ می نماید اکنون با چلینج واقعی روبروست که یا باید به اصل ازادی ملت های محکوم تن در دهد ویا با سرکوب جنبش ازادی طلبی مردم جمهوری خود مختارچیچن انگوشیاقفقاز شمالی اصلیت روسی وچهره اقاینٔ روسها در روسیه راجهایاند .

بعد از کودتای ناکام کمونست ها در روسیه یلتسین بابر داشتن گامهای سنجیده شده که طبعاً مطابق میل مردم روس وجهان که ناشی از تنفراز کمونست های تند روبود طرف توجه علاقمندان اعاده پروسه دموکراسی در روسیه وغربیها واقع گردید ، بوریس یلتسین کسی است که درهنگام قدرت طاغوتی بریژنیف منشی کمیته حزبی شهر مسکو وعضو بیروی سیاسی حزب کمونست بود ویا برسرکرسی رسیدن گرباچف که توام بان جرقه های تغیرات در روسیه اغازیدن گرفت یکباره بشکل دراماتیك در قطب مخالف حزب کمونست در روسیه قرار گرفت وان هنگامی بود که رشد یك شخصیت مستقل خلاف میل قدرت حاکمه ویکه تاز کمونست ها ناممکن بود ، لذا نمیتوان بر شخصیت دیموکراتیك کذایی یلتسین باورچندان نمود .

اکنون مسأله ازادیخواهی مردم جمهوری خود مختار چیچین انگوشیا در شمال قفقاز که عدهٔ بیشتر مردم ان مسلمانان اند هویت دموکرات بودن یلتسین راتحت ازمایش قرار میدهد .

رئیس جمهور چیچن گفته است که مردم چیچین انگوشیا باکسی دعوا نداشته بلکه ازادی خود رامیخواهند ، وی ازمردم خود خواسته است که بخاطر ازادی خویش بجنگند .

وضع در ان جمهوری خود مختار هنگامی بیشتر بحرانی گردید که یلتسین رئیس جمهور فدراسیون روسیه که جمهوری خود مختار چیچین نیز جز ان میباشد به تعقیب اعلام ازادی جمهوری مذکور با اعلام حالت اضطراری بیش از ششصد عسکررابخاطر تنفیذ حالت اضطراری بانجا فرستاد .

جمهوری فدراسیون روسیه مشتمل برسی وچار(۳٤) منطقه خود مختاربوده وقبلا نیز یك سازمان که از چارده ملت از قفقاز نمایندگی می کند از مردم منطقه خواسته بود که خود را بسیج نموده از انقلاب چیچین دفاع نمایند .

عساکر فرستاده شده ازسوی یلتسین حتی مجال انرا نیافتند تا از طیاره های حامل خویش پیاده شوند زیرا هزاران تفنگدار داوطلب انها را نگذاشتند تا از طیاره پیاده شوند بناً یلتسین ناگزیر گردید تا عساکر مذکور را از انجا خارج نماید .

همچنان پارلمان فدراسیون روسیه نیز به تعقیب تشنج اوضاع درجمهوری خود مختار چیچین طی جلسه خواستار قطع حالت اضطراری گردید .

مسأله خود مختاری چیچین اولین مشکل نژادی در سطح فدراسیون روسیه میباشد که یلتسین بان مواجه بوده و مجبور خواهد بود در رابطه بان اتخاذ تصمیم نماید وی قبلا در رابطه به ازادی جمهوری بالتیك ، مشکل ناگورنو قره باغ وسایر دشواری های جاری سیاسی روسیه موضعیگری مشخص نموده است اینکه مشکل خود را چگونه حل می نماید محك مهم وجدی برای ازمایش طبع دموکراسی خواهی موصوف میباشد .

پروبلم استقلال خواهی جمهوری خود مختار چیچین یکی از دهها پروبلم روسیه است که بعد از کودتای کمونست ها سربیرون اورده است ونمیتوان همه انها را سرسری وسطحی گرفت دربن

درصفحه ۷

روسيي تـه دهيئت تگ د غندني وړکار دي ، موږ ور سره هيڅکله هم موافقه نشو کولای

دافغانستان داسلامی حزب مشر محترم مولوی صاحب محمد یونس خالص دبی ، بی ، سی دخبریال ددی پوښتنی په ځواب کی چې ولې مو مسکو ته دمجاهدینو په تلونکی هیئت کی برخه وانه خیسته؟ وویل : دافغانستان اوسنی جگړه دافغانانو خپل منځی جگړه نه ده بلکه دادافغانستان دمؤمن اومظلوم ملت او دروسانو تر منځ جگړه ده ، نوپه داسی حال کی داجگړه لاجریان لری ، په روسی توپونو او بمونو زموږ هیواد اوس هم ورانیږی ، روسان اوس هم عملاً غواړی چی زموږ هیواد درپه درکړی ، نوپه دغسی وخت او شرایطو کی له روسانو سره دهغوی دبندیانو اویانورو مسئلو په هکله هغه هم دهغوی په کور کی خبری کول زما په نظر یودغندنی وړکار دی ، او موږ له دی سره هیڅکله هم موافقه نشو کولای .

> دافغانستان اوسني جگړه ، دافغانستان دمؤمن ملت اوروسانو تر منځ جگړه ده ، نوپداسي حال کي چي داجگړه لادوام لري ، دروسانو سره خبري هغه هم ددوي په کور کي زما په نظر يودغندني وړکار دي.

کله چی پوښتنه وشوه چی روسیی ته تلونکی هیئت به څه ترلاسه کړی او که تش لاس به بیرته راوگرځی ؟ مولوی صاحب په ځواب کی وویل : زه خو فکر کوم چی روسان یادښمن به له دی نه دوه استفادی وکړی ، یوخو داچی دمجاهدینو تر منځ به فاصله نوره هم پسی زیاته شی او اختلافات به راپیدا کړی اوبله داچی که چیری دی خلکو بیرته افغانستان په روسانو خرڅ کړو اوپه جهاد یی لوبه وکړه اوپه دغسی یو حکومت باندی یی ورسره موافقه وکړله چی هغه دروسانو په گټه وی دروسانو قراردادونه دمزدور رژیم سره ټوکی کوی ، نوپه دی صورت کی به هم دښمن گټه کړی وی اوخپل هدف به یی ترلاسه کړی وی زما نظر دادی چی داسفربه مجاهدینو ته هیڅ گټه ونلری.

دافغانستان دسولی پروسه او دظاهرشاه نقش !!

احمدضیا رحیمزي

کله چی تیره اونی ددوشنبی په ماښام دنړی دخبری اژانسونو له لوری په روم کی دافغانستان پر تعبید شوی پخوانی پاچا محمد ظاهر شاه دقاتلانه حملی خبر خپورشو، نو دبی ، بی ، سی راډیو هم ددغه قاتلانه حملی خبر خپور کړ او ورسره جوخت یی پدی اړه دیو شمیر پیژندل شویو اوناپیژندل شویو کسانو څخه دهغوی نظریات هم وپوښتل ، او دغه ډله افرادوهم دخپل سیاسی دید اوبینش په اساس مختلف اوله یوه بل څخه مخالف نظرونه څرگندکړل.

دبی ، بی ، سی راډیو ویاند ددی نظر غوښتنی په ترڅ کی سربیره پردی چی دذکرشویو کسانو څخه یی پر ظاهرشاه باندی دحملی په اړه دهغوی نظرغوښت ، داپوښتنه یی هم په ډیر شداومدمطرح کوله چی :« پر ظاهر شاه باندی دغه قاتلانه برید اودهغی په ترڅ کی دنوموړی ټپی کیدل ، به دافغانستان دسولی لپاره په روانه پروسه څه وړاو څومره اغیزه وکړی ؟»

داچی دذکرشویو کسانو له لوری دی پوښتنی ته څه وړ ځوابونه ورکړل شول ، اوددی ځوابونو څخه څومره په واقعیتونو ولاړ وواو څومره نور یی غیر واقعبینانه او مبالغه امیز ، داځانته بیل بحث دی ، ولی هغه څه چی ددی ډول پوښتنو په مطرح کیدو دسړی په ذهن کی راگرځی دادی چی دافغانستان دسولی دغه روانه پروسه چی نوموړی راډیو ګانی یی په ډیر جدیت !! نوم اخلی کله اوپه کوم ځای کی پیل شوی ؟

تهوله نړی ددی شاهده ده چی په افغانستان کی ددیارلس کلنی خونړی جگړی اصلی عامل دپردیوتجاوز او تیری سوغات اودهغوی دوسلو په زورتهینګ شوی مزدور رژیم لاتراوسه په کابل حکمران دی ، اودروس دواکدارانو له خوا دخپلو کورنیو بی شمیره ستونزو سره سره هغه ته لا مرسته او نوی مهرنه وسله ورکول کیږی دروسی مهرنواونویو وسلو په وسیله دافغانستان دمظلوم اوبی دفاع ولس قتل عام اووینی بهول اودهغوی دجونگړو اوپناه ځایونو دورانولو لړی چی ددیارلس کلنی خونړی جگړی له پیل سره سم شروع شوی ده لاتراوسه هم دوام لری او نړیوال استعماری ځواك چی دروس تر تهوته تهوته کیدو وروسته اوس په اصطلاح «یکه تاز میدان » دی ، دبیلابیلو طرحو او سازشونو له لاری غواړی دخپلی خوښی یو بل مزدور اوبی واکه رژیم پداسی حال کی چی زموږ دمجاهد ملت هر فرد یی مخالفت کوی زموږ پر مسلمان اومظلوم ولس تحمیل کړی.

> دغه ملت چي کولاي شي پردي يرغلگر په پوره ميړاني اوشهامت له خپلي خاوري په شاه تگ ته مجبور کړي ، دغه ملت چي کولاي شي داسلام اووطن په لاره کي دتاريخ ستره قرباني وړاندي کړي ، داهم کولاي شي چي خپل سرنوشت په خپله وټاکي

گومان کوم په افغانستان کی روان اوسنی کړکیچ اووضعی ته به په غور کتلو نه وروسته حق ولرو وپوښتو چی ښاغلیو تاسی دافغانستان دسولی په هکله له کومی پروسی خبری کوی ؟

دابه ومنو (لکه پورته چی ورته اشاره وشوه) نړیوال استعماری قوتونه پدی هڅه کی دی ترڅو په خپله خوښه زموږ پر مسلمان او مجاهد ولس یوداسی سیاسی حل وتپی چی په هغی کی ددوی خپلی اوسنی او راتلونکی گټی خوندی وی .

خو داجوته خبره ده چی دا ډول حل به هیڅ کله زموږ جگړی ځپلی ټولنی ، کړیدلی ولس ، اوبرمیالو مجاهدینو ته دمننی وړنه وی اونه خو دغه ډول حل اودهغی په نتیجه کی په افغانستان کی احتمالی ټینګ شوی مزدور اوتپلی نظام به زموږ په هیواد کی دسولی دټینګست تضمین وکړای شی .

اوداهغه جوت او منل شوی حقیقت دی چی زموږ دکړکیچ دسیاسی حل په نامه دهرډول هلو ځلو دهردوړ دپیل په موقع زموږ دمجاهد اومسلمان ملت له خوا بیان شوی او واضح شوی .

نړیوال استکباری قوتونه دافغانستان دلانجی دپه اصطلاح سیاسی حل په لار کی په هغه څه چی ډیر زیات ټینگار کوی اودوی په گومان دمسئلی دټولو لوریو توافق پری راتلای شی ، هغه ددی هلو ځلو په بریالیتوب کی دپخوانی پاچا محمد ظاهر په اصطلاح مثبت او رغنده نقش دی !

په همدی دلیل ده چی په روم کی دظاهرشاه تر ټپی کیدو وروسته کله چی دبی ، بی ، سی یاامریکا غږ راډیو غواړی دهغه په هکله له چاڅه وپوښتی نویوه مهمه پوښتنه یی همدا وی چی ستاسی په نظر دغه حمله او دظاهرشاه ټپی کیدل به دافغانستان دسولی پر پروسه څومره اغیزه ولری ؟

سمه ده چی ظاهرشاه دافغانستان دکړکیچ دپه اصطلاح سوله ایز حل لپاره دنړیوال استعمار هغه منتخبه اوغوره څیره ده چی دروس ، امریکا اوځنی نورو لوریو پرته دکابل داوسنی رژیم مشر نجیب ته هم دمنلو وړده ولی مهمه داده چی وگورو که دنورو له خوا دغوره شویو څیرو دټپلو په واسطه په

په ۷ مخ کی

دخوست دبریمنو عملیاتوتجربي زموږ دغنډ مجاهدینو ته د ګردیز په اوسنیو عملیاتو کي زیات بریالیتوب په برخه کړ

دالحاج مولانا جلال الدین حقاني ترقیادت لاندي دحضرت سلمان فارسي (رض) دغنډ رئیس ارکان داکتر صاحب نصرت الله چي دګردیز په اوسنیو عملیاتو کي يي دخپل غنډ دمجاهدینو سوق او اداره په غاړه درلوده موږدګردیزپهاوسنیو عملیاتو کي دمجاهدینو دبریالیتوبونو او سوبو په اړه له نوموړي سره مرکه کړي ، چي درنو لوستونکو ته يي وړاندي کوو.

(اداره)

پوښتنه : محترم داکتر صاحب که دګردیز په اوسنیو عملیاتوکی په عامه توګه دټولو مجاهدینو او په خاصه توګه دخپل غونډ دمجاهدینو دفتحواوبریالیتوبونو په هکله دجهادهنداری لوستونکوته په لنډه توګه معلومات ورکړی؟

ځواب : مجاهدینو دګردیز پر ټولو خواوویاندی لږ و ډیر عملیات وکړل خو تر ټولو بریالی عملیات دګردیز په جنوب کی وو چی مجاهدینو وکولای شول چی په لږ وخت کی په ډیری چټکتیا سره ددښمن یو ډیر کلك کمربند مات کړی او خپل ځانونه دګردیز ښارپنځه سوه متری ته ورسوی .

مجاهدینو دلومړی ورځی په عملیاتو کی ددرې کلی په شاوخوا کی دوولس پوستی ونیولی ، اوپه دوهم عملیاتو کی یی دازغنی قرارګاه او پوستو په نیولو سره بی له ځنډه دبنوزیو په استقامت حرکت وکړ او دبنوزیو قرارګاه اوتقریباً پنځلس پوستی یی فتحه کړی اوبیا یی دحلیم کلا په استقامت حرکت وکړ حلیم کلا تقریباً

دوه کیلو متره دګردیزدښارد مرکز څخه لری پرته ده تردی ځایه پوری مجاهدینو په منظم او کټلوی ډول تعرض وکړاودحلیم کلاڅخه وروسته مجاهدینو دګردیز بازار په طرف حرکت وکړ او تقریباً دښار پنځه سوه متری ته ورسیدل خو څرنګه چی له یوه طرفه شپه وه اوله بله طرفه مجاهدینو خپل نظم څه ناڅه له لاسه ورکړ اوپه دغه وخت

کی ددوی دنوی تنظیم لپاره زمینه نه وه مساعده نو هدایت ورکړل شو چی خپل دفاعی خط جوړ کړی ترڅو چی له یوه طرفه د راتلونکی تعرض لپاره ځان برابر کړی اوله بله طرفه ددښمن دمتقابل تعرض مخه ونیسی .

دسلمان فارسی غنډ ټول جزوتامونه دګردیز په جنوبی محاذ کی ځای پر ځای دی اودګردیز په اوسنی

جنګ کی یی په دفاع اوتعرض کی ډیر مهم رول ولوباوه اوالبته ددی غنډ جزوتامونو وکولای شول چی ددښمن ټولی متقابلی حملی او مانوروونه په شا وتمبوی اوداویلای شو چی مجاهدینو څومره بریالیتوبونه دګردیز په جنوب کی تر لاسه کړی اودګردیز په بل استقامت کی یی دومره پرمختګ ونکړ یولوی علت یی دګردیز په جنوبی محاذ کی دغنډ دمجاهدینو موجودیت ودغه غنډ چی دخوست په عملیاتو کی ډیری تجربی ترلاسه کړی دی نو څکه تر ډیره حده په عملیاتو کی بریالی و.

پوښتنه : که خدای (ج) ته نه وی منظوره اودګردیز فتحه تر ژمی پوری وځنډیږی ، مجاهدین به دنیول شویو

شویو منطقو ساتلو کی مشکلات پیدا کیږی او همدارنګه دمجاهدینو لخوا په تعرضی عملیاتو کی هم مشکلات ډیریږی خو مخکی له دی چی داسی حالت راشی موږپدی هکله تدابیر نیولی دی ، دمجاهدینو په دفاعی کمربندونو کی داستوګنی لپاره مو استوګنځی جوړکړل ، دیخنی

په مقابل کی مو دسونګ موادو اوالبسی بندوبست وکړ داکمالاتو په حصه کی مو علاوه له دی چی په زیاته اندازه مهمات او غذایی مواد محفوظ ځایونو ته ددفاعی خط تر شارسولی وی دلاری جوړولو بندوبست مو هم وکړ اوسره له دی چیکه په زیاته اندازه واوره او اورښت موجود وی موږ بیا هم انشاالله کولای شو چی خپل اکمالات وکړواو څه وقفه په

ځایونو په امنیت او ساتنه کی دهوا دسړښت او داکمالاتو له امله له ستونزو سره مخامخ نشی ، تاسی په دی هکله څه تدابیر نیولی دی؟

ځواب :

البته داخبره واضح ده چی دژمی په راتلو سره دفتح

غربیانو ته اوس دکمونیزم له طرفه په ټوله نړۍ کی خطره ورکه شوه اوس دوي یواځي خپل حریفان مسلمانان بولي او کوښښ کوي چي په افغانستان کي اسلامي حکومت منځ ته رانشي

اکمالاتو کی حتی څو ساعته هم رانشی .

پوښتنه : دګردیز په اوسنیوعملیاتوکی دمجاهدینو تر منځ په عملیاتو کی ترکومه حده هم اهنګی موجوده ده .

ځواب : دګردیز په اوسنیو عملیاتو کی دمجاهدینو تر منځ په ځینو استقامتونو کی

په (۵) مخ

له آزاد خوست نه تر کلابند ګردیزه

دشفیقي په قلم

دغه دنګ غرونه او ګڼ ځنګلونه ماپخوا هم لیدلی دی لږ پخواهم اوډیر پخوا هم،له دغو ځنګلونو اولوړو غرونو سره ښه اشنایم ، داسی ګنم لکه له هری څوکی ، کمر ، ناو او ونی سره چی بلد وم ، لکه همدلته می چی خاپوړی کړی وی ، دغه دنګی څوکی دښترو ، لمنځنو اوځیریو ونی زما دډیرو خوږو خاطرو دفترونه دی چی وینم یی ډیر څه راپه یادیږی خوناڅاپه له دنګو څوکو ښکته شو او هوارو ته رسیدلی یو ، دغه هواری په خړو بوټو پټی دښتی ماته نوی دی .

یو ځل می څه نشه پر سر ننوته ، زه دخوست په ښار کی ګرځیدم ، زه په یوه هوار سړك په لوکس داډسن کی سپوروم ، یو ځل می بیا څه خیال ته راغلل ، له ځانه سره خجالت شوم ، زه دبل په افتخاراتو مغرور یم ، خو بیا هم سمدستی خیال ته راشی چی زما خپل ویاړونه او افتخارونه دی ، دغه سوبی او فتحی زما خپلی دی ، زما وروڼو ګټلی دی ، بیرته یو ځل له سره نشه راباندی زوروره شی خو پر دغه سړك چی زه

په لسو ملتو کی تردی ځایه رارسیدلی یم دغه لاره په څومره قیمت ازاده شویده ، اندازه یی نشم لګولی ، پل پر پل خاوره دشهیدانو په وینو رنګیدلی لویشت په لویشت یی دککرو قربانی وړاندی شوی ، دغه لاره له بړی نه دخوست تر ښاره چی زه په پنځلس دقیقو کی پری تیر شوم په پوره دوولس کالو کی وهل شوی هغه هم پل پر پل دوینو دډیوو پر بلیدو اودککرو دځلیو په دریدو سره .

زه نن بی غمه او ارام دموټر په سیټ کی ناست یم اوډیر ګړندی تیریږم خو دغه ازادی بی غمی اوارامی په څومره ستره بیه تمامه شوی ده ، هره لویشت خاوره په یوه لپه وینو ، هر ګام ځمکه په یوه ککره ، څومر ه ستره قربانی ده زه څومره ستری قربانی په بدل کی په ګټل شوی ځمکه ګرځم ،زه څومره ایثارګر اوسرښندونکی هیواد وال لرم ؟ څومره باایمانه اوله غیرت او همت نه ډك شاګلمی ؟!... اندازه یی نشم اټکل کولی ، له بړی تر ښاره دعبرت ، مظلومیت ، وحشت او جنایت نخښی دی

وسله وال ځوانان ډله ډله په موټرو کي اوږلي روان دي څوك ګردیز ته روان دي دتاوده جنګ ډګر ته اوڅوك له جګړي نه راستانه شوي دي په څیرو کي يي دخفګان څرك نه لګي دلته بلکل بل ډول فضا ده دلته په څیره دخوښي پوښ غوړیدلي په شونډو تبسم خپوردي ځوانان دي ټوپك پر غاړه دجګړي ډګر ته روان دي

، زما دهیواد والو جونګړی دی چی دستم په اورلولپه شوی دی ، توری ایری اودود وهلی خاوری یی ډیری پر ځای پاتی دی ، چی پر جانیانو او غدرانو لعنتونه وایی دامی دهیواد والو دمظلومیت ستره نخښه نه ده نو څه ده وګوره ختین کور چاورپیرزو نه کړ ، دکور کالی ، بوډی ښوورچیانو همدغه یوازینی جونګړه هم ورپرینښودله ، خو بیا وینم چی دشلم قرن دجابر ابرهه پولادی پیلانو هم دهمدغو سوځیدلو جونګړو په درشل کی ګونډه وهلی نو دابیا دعبرت نخښی دی ، باید عبرت تری واخستل شی ، باید سترګی خلاص کړو ، په خلاصو سترګو یی وګورو چی که تخنیك هر څومره زورورشی که پولاد هرڅومره وژونکی شی ، توره شی ،

ټوپك شی ، بم شی ، ټانګ ، راکټ او ... شی خو ایمان ته به ګونډه وهی ، ارادی او همت ته به سلامی کیږی ، زما دهیوادوالو دسوځیدلو اوویجاړو جونګړو پر درشل سوی ټانګونه او دغلام خان پربازار لیلام الوتکی ذدی همدغسی دی ، پزی یی پر خاورو خښی لکه په عذر او په زاریو چی وی ، لکه چی له غازیانو نه مو بخښنه غواړی اولکه چی نوی هم په دی خفه وی چی ولی دیوی مظلومی ټولنی ، یوه مظلوم قوم اویوه بی ازاره ولس پر کورونواو

په غنیمت نیول شوي دګرینتي بمونو ګوزارولو دستګاه

خبری سترګواه دی ، اودخوست پراخی دښتی خوبیا داسی عبرتکده ده چی هیڅ ویښ ضمیر یی نشی هیرولای .

الوتکی دی چی څوکی یی په خاورو خښی او وزرونه یی له شانه جګ جګ نیولی ته به وایی دمجاهد افغان په پښوکی ورلویدلی ، کټ مټ پرګنو استعمال شوی ؟! وسله وال ځوانان ډله ډله په موټرو کی اوږلی روان دی ، څوك ګردیز ته روان دی ، دتاوده جنګ ډګر ته او څوك له جګړی نه راستانه شوی دی په څیرو کی دخفګان څرك نه لګی ، دلته بلکل بل ډول فضا ده دلته په څیرو دخوښی

په ٦ مخ کي

جهادي ادب

شيطان دی ترهيدلی مسلمان په مخه کړی
الحاد گوره عدم ته چی افغان په مخه کړی
تکبير موورته زيری دمرگونو نه شوځه شر؟
ستر روس تهوتهه توته شو اوتوپان په مخه کړی

ښه شول

ملا اسد الله حنيفی

ښه شول چې سره پوځونه وتمبيدل
چی سر نگون په امو پوری وتل
چی شول بی پته هر سړي ته وروڼو !
تهولی نړۍ په وړاندی وشرميدل

ښه شول چی ماتی شولی سری ککری
دسره ښکيلاك دچم کړی ککری
بيا به سرلوړی اوسرپورته نه شی
داداالحاد دکورو روستی ککری

ښه شول چی سره بتان را وپرځيدل
دادختيځ خرسان راوپرځيدل
په استعمار يې زلزلی شوی گډی
دکريملين ديوان راوپرځيدل

ښه شول دا سره سرونه ښکته چی شول
دابی همته بی هيبته چی شول
چی هغه پت يی ورته پاته نشو
په سپکه سپك په پت بی پته چی شول

ښی شوی چی گرمی شولی سړی پرکني
دابدالی دکورو ړی پرگنی
له ځندينه خوبه راويښی شولی
د(حنيفی) په څيرويدی پرکني

به پيشواز سالروز تولد ، فليسوف بزرگ شرق وشاعر شهير اسلام علامه اقبال لاهوري :

نه افغان ونه ترك وتتاريم
چمن زاديم وازيك شاخساريم
تميز رنگ وبوبرماحرام است
که ماپرورده يك نوبهار يم

علامه اقبال لاهوري

ننگيالي اوخاطری يی

پرسر اوږيره يی دعمر دژمی واوره وريدلی ده ، دتندی گونځی يی هم داوږده ژوندانه دډيرو هسکو ټيټو شاهدی دی - په سينه کی يی ډير رازونه او يادونه دی ، درکودی دورانونو ، دغفلتونو اوبی خبريو دوختونو او بيا دغورځنگونو اوتوپانونو يادونه ...
سپينه ږيره او خوړلی عمر يی دغورځنگونو اوننگونو په لارکی دگام اوچتولو خنډ نه شو ، کمزوری اوبوډا توب يی دننگ او جنگ دگرته دوتلو ديوال نه شول ، ويی ښودله چی رښتيانی نيکمرغه دی بوډا دی خوبی غيرته نه ، کمزوری دی خو دقوی او ځواکمن زړه او ايمان خاوند ، دعمر لمر يی په ډوبيدو ده خوپه تلتك کی نه دشهادت په وياړلی مورچل کی ، هغه دمرگ په خوله کی هم ځان مرگ ته نه سپاری ، غواړی مرگ ووژنی ، غواړی دابدی ژوند سعادت يی په برخه شی ، همدغه جذبه ، همدغه عقيده اوهمدغه اراده يی بيا هم دننگونو ميدان ته کشوی دقربانی دقافلی ملگری کيږی تردی چی کمزوری بدن يی نيمگړی کيږی هم ، خودبوډا اراده ځوانيزی ، تکل يی غښتلی کيږی اودقربانی پر لار دمزل هوډ يی لاپخيږی خودبه داسی کيږی ، دهغه ولس يوکس دی چی طلسمونه ماتوی ، قيامونه جوړوی ، او طاغوتيان رانسکوروی .
ويی پيژنی :
ميران گل دگل محمد زوی دخوست داسماعيل خيلو اوسيدونکی دمولوی صاحب حنيف شاه دجبهی غيرتی مجاهد چی په ۱۳۶۲ کال کی دانځرگی په سيمه کی پرپوسته دعملياتو په جريان کی په ماين تپی او يوه پښه يی غوځه شوه.

سره ځم

لطف الله مشعل

زه مجاهد يم ميړنو سره ځم
پر دښمن دانگم تکبيروسره ځم
دځانځاني نړۍمي شاته کړله
اوس دوحدت له قافلو سره ځم

اوس به مي يون منزل ته زرورسي
چي دځوانانو بدرگوسره ځم
مادفراق په لمبو مه سوزوۍ
خيردي وصال که دلنبو سره ځم

دفلسطين يومجاهد يم خلکه !
اوس دکشمير له ولولو سره ځم
ما دختيځ ښارما ته ماته ورکړه
اوس ولويديځ ته دنيزو سره ځم

داستعمار لوموکي بند به نشم
زه دپرواز له باريکو سره ځم
دتنکي گل په تصور کي نه يم
زه ومنزل ته دازغو سره ځم

دستړيا هيلي رانه مکړي خلکه!
زه دباعزمه حوصلو سره ځم
مشعلهوالوت دغفلت مارغه مي
لدينه وروسته گړندو سره ځم

دنورځلي

ژباړه — س - ش - ر

د«حمص » خلکو دخپل والي حضرت سعيد (رض) بن عامر څخه څلور شکايتونه درلودل چې دوخت اميرالمومنين حضرت عمر (رض) ته يې بيان کړل :
عمر(رض) ډير خواشني شواو دعا يې وکړه : يا خدايه دسعيد په باره کې زما رايه مه غلطوی ، عمر (رض) دواړه خواوې کينولې تر څو سعيد دخلکو شويو شکايتونو ته ځوابونه ورکړي خلکو وويل لومړي شکايت دادې چې سعيد (رض) دکور څخه ډير ناوخته دفتر ته راځي بل داچې دشپې زموږ دمشکلاتو داوريدو لپاره دکوره نه راوځی دريم داچې په هره مياشت کې دوه ورځې داسې وي چې بيخي دفتر ته نه راځي څلورم داچې کله کله دمجلس په وخت کې پده باندې داسې بې هوشي راشي موږ فکر وکړو چې گوندې وفات شو له دې څخه وروسته عمر (رض) له سعيد (رض) نه غوښتنه وکړه چې بايد دهر شکايت ځواب ورکړي ، سعيد دلومړي شکايت په مقابل کې داسې وويل : په کور کې خادم نلرم چې زما دکور کارونه سمبال کړي مجبور يم چې اوړه واغږم ، ډوډۍ پخه کړم او کور جارو کړم بيا نو زه اودس وکړم او ددفتر پلو راروان شم که څه هم مادا رازونه نه ښکاره کول خوښه وکړم .
ددويم شکايت په مقابل کې يې وويل ما ورځ دخدای پاك دخلکو دخدمت لپاره ويستلې اوشپه مې دخپل خدای (ج) عبادت او ثنا لپاره .
ددريم شکايت په مقابل کې وويل : نه خادم لرم اونه بل جوړ کالي همدا يوه جوړه کالي دي چې په مياشت کې يې دوه واره پريمنځم کله چې خيرن شي يوې لرې دښتی ته لاړشم وې وينځم کله چې وچ شي وايی غوندم او راروان شم .
دڅلورم شکايت په مقابل کې يې وويل : هو بې هوشي راباندې راځی کله چې د«حبيب انصاري » شهادت راپه زړه شي کله چې په دار زړول کيدو همدايې ويل : خپل مرگ قبلوم خو حضور (ص) ته دازغی تکليف نشم قبلولې: دغه وخت زه مشرك وم دغه صحنه چې مې راپه زړه شي دخدای پاك له ويرې بې هوشه شم چې څه ځواب به الله تعالیٰ ته ورکوم ولې مې دحبيب انصاري مرسته ونکړه عمر (رض) چې واوريدل ويې ويل : الحمد لله څومره نيك سړی او نيك کارونه.
په (مسند احمد) کې ابو عثمان المندی فرمايي : يوه ورځ زه دسلمان فارسي (رض) سره ديوې ونې لاندې ولاړ وم حضرت سلمان فارسي (رض) ناڅاپه ونه د ډډ نه په زوره زوره وخوزوله چې ډيرې وچې پاڼې او ډکي يې ځمکې ته راولويدل . ماته يې وويل ولې دې رانه پوښتنه ونکړه چې داولې ؟ ما عرض وکړ پخپله يې راته ووايې : حضرت سلمان فارسي (رض) وويل يوه ورځ زه هم دحضرت محمد مصطفیٰ (ص) سره ديوې ونې لاندې ولاړ وم مبارك (ص) ونه دډډ نه ونيوله او په زوره يې وښوروله چې ډيرې وچې پاڼې راولويدی ، ماته يې وفرمايل اې سلمانه ولې دې راڅخه دونی دښوريدو پوښتنه ونکړه ما ورته عرض وکړ صاحب تاسې يې وفرمايې : ويې فرمايل : کوم مسلمان چې په سمه طريقه اودس کوي اوخپل پنځه وخته لمونځ دټولو خوبيو اوارکانو سره ادا کوي خدای پاك (ج) به يې ددی پاڼو په شان گناهونه رژوی .

***

ابوبکر بن عبدالرحمن دخپلې امانتدارۍ اوديانتدارۍ له وجې ډير زيات مشهور و ده سره به چې هر چا امانت کيښود په پوره ډول به يې پرې بيرته سپارلو که چيرې به په امانت کې خيانت راغې ده به يې خامخا تاوان ورکاوه که څه هم دمال څښتن به تاوان نه اخيسته ويل کيږي چې يو ځل ور سره چاڅه مال امانت کيښود له بده مرغه له دغه څخه دغه مال غلا شو دمال څښتن ده ته وويل له تا څخه هيڅ تاوان نه غواړم ځکه ته موږ ته معلوم يې ته «امين» يې خو ابوبکر بن عبدالرحمن په ځواب کې ورته وويل پوهيږم چې له ماڅخه تاوان نه غواړې خو زه دانه غواړم چې ستا له خولی څخه چيرته ووځي « مال می ضايع شو » همغه وه چې خپل کور يې وپلوراوه خو دهغه تاوان يې ورکړ .

شپږمه برخه

په گرديز کې مکار دښمن دماتې او گريز په حال کې

دراپور تهيه کوونکي ننگيال
عکاسي احمد سينا «احمدي»

دعقرب په ۸ نېټه دمازيگر په ځلورو بجو دمجاهدينو توپچي دگرديز قوماندانۍ تر اورلاندې ونيوله او ورسره په پرله پسې توگه دگرديز پوځي تاسيسات هم ددرنو وسلو تربريد لاندې ونيول شول .

همدارنگه په همدغه نېټه دزرمت په استقامت هم دحضرت عمر فاروق (رض) مجاهدينو دلړم په ۵ نېټه پر پوسټو درانده اوبريالي عمليات پيل کړل دمجاهدينو پروگرام داسې و چې پر پوسټو به دحضرت عمر فاروق (رض) غونډ مجاهدين بريد کوي اوله فتحې وروسته به مخ په وړاندې ځي ، البته دفتحه شويو پوسټو ساتنه دمنصور صاحب مجاهدينو په غاړه اخيستې وه خو کله چې نوموړي پوستې فتحه شوې او مجاهدينو مخ په وړاندې حرکت وکړ دهغوی په شا کې نه دپوسټو دساتنې اونه هم کوم دفاعي قوت ځای په ځای شوی و ځکه خو مجاهدين بېرته په شا شول .

دعقرب په ۹ نېټه له غرمې وروسته دمجاهدينو دتعرض پروگرام و په يوه بجه دښمن يو محاربوي ماشين چې ګڼ پوځيان پکې سپاره و دمجاهدينو دانداخت له امله ويجاړ او وسوځېد ،

په درې بجو اوپنځلس دقيقو دشيخانو او چکن په سيمه کې ددښمن پر پوسټو دمجاهدينو تعرض پيل شو ، خوله لومړنې پوستې ځخه چې دسپينې خيمې پوسټې په نوم يادېدله ، ددښمن مقاومت نه ليدل کېده ، دپنځلسو دقيقو جگړې په اوږدو کې ددښمن پوسته فتحه او ځلور تنه عسکر مجاهدينو ژوندي ونيول ، اوګڼ شمېرنورې دتيښتې پر وخت دمجاهدينو دډزو له امله مړه او ټپيان شول مجاهدين په چټکتيا سره دپرمختگ په حال کې ؤ حقاني صاحب توپچي ته قومانده وکړه چې په ډاگ کې ددښمن ټانکونه تر اور لاندې ونيسي ترڅو مجاهدين دپرمختگ په وخت کې تر حملې لاندې ونشي نيولى .

حقاني صاحب دمجاهدينو دتوپچي دانداخت ځارنه کوله او له هر انداخت سره يې دتوپچي بيلابيلو قوتونوته دمسافې دتعين اندازه ښودله پدې وخت کې قوماندان حاجي گلاب کوچي په لنډو ټکو کې حقاني صاحب ته وويل : کراره کراری ده خيرخيرت دی ، لومړی پوسته مو ونيوله ، مجاهدين ټول دخدای په فضل روغ جوړ دي .

حاجي گلاب وويل مجاهدين ددوهمې پوستې په لور روان دي ، خو حقاني صاحب ورته داحتياط توصيه وکړه ويې ويل احتياط اوحوصله کوی چې ددښمن له خوا غوړول شوي ماينونه مو ژوبل نکړي

په مخابرو کې دمجاهدينو دفاتحانه اوبريالي حملې په رابطه دخوښۍ او مبارکۍ دشوراوزوږ يوه عجيبه شان هنگامه جوړه وه .

ددښمن مخابره چې دمجاهدينو له خوا په مسلسله توگه تعقيب کېدله يويل ته په کنځلو مصروفه وه .

ددښمن قوماندان (وويل : ځه بلا دربانده پريوتله چې پوسته مو ورته خوشې کړه ، په ځواب کې ورته وويل شول ځه مو کړي وای ډېر ستر هجوم يې راوړي و ، له هوايي کومک پرته مقاومت امکان نلري ...

حقاني صاحب قوماندان گلاب ته يو ځل بيا داحتياط اوحوصلې هدايت وکړ ويې ويل : تر هغې چې زموږ توپچي ددښمن ټانکونه تر اور لاندې نه وي نيولي تاسې پرمختگ مه کوی .

په ځلور بجو بالاحصار دمجاهدينو دتوپچي ترانداخت لاندې ونيول شو .

ددښمن دتوپچي وضعيت داسې معلوميده لکه چې له فعاليت ځخه لويدلې اوهدف په تعين کې پاتې راغلې وي دکوزو شيخانو پوستې هم تر مسلسل انداخت لاندې نيول شوې وې داسې معلوميدې لکه چې ډېر سخت اور پرې بل وي .

حقاني صاحب قوماندان گلاب ته وويل : ژوندي نيول شوي پوځيان ښه وساتې چې درنه ضايع نشي

مجاهدين تر بريالیو عملياتو وروسته دزړه خواله کوي

دمازديگر په ځلورو بجو دحاجي خليل زغروالو ځواکونو ددښمن ټانکونه تر سخت انداخت لاندې ونيول او هدف يې ډېر رسا تر اور لاندې نيولی ؤ .

ددښمن مخابرې لا هماغسې په خپل منځي کنځلو لگيا وي يوه پکي وويل : غرندی نور وانه ورم داخل به اول ستاککرى الزوزم .

ددښمن په مخابره کې په کندهاري لهجه يوه تن قوماندان ته ډېرې سختې سپورې وويلې او شکايت به يې کاوه چې دزخميانو دوړلولپاره نه ورته موټر راغلې نه هليکوپټرنه ورسره دخوراک ځه شته او نه دځښاک ده پرله پسې چغې وهلې چې پنځه ويشت زخميان ورته پراته دي .

خو ددښمن دقوماندانۍ له مرکز ځخه وويل شول : نوردمخابرې له لارې دزخميانو او مړو شميرمه ښيي ، ماښام نژدې مجاهدينو دنورو پوسټو په لور پرمختگ پيل کړ .

پدې وخت کې ددښمن توپچي هم يويو انداخت کاوه .

له يو ساعت جگړې وروسته ددښمن دوې نورې پوستې هم فتحه شوې او دمجاهدينو دمبارکۍ سلسله شروع شوه

...«ادامه لري»

دخوست دبريمنو عملياتو تجربې ....

له شمال ، شمال غرب ، او شمال شرق هم آهنگي موجوده نه وه او په ځينو استقامتونو لکه جنوب ، غرب اوشرق طرف کې هم آهنگي موجوده وه .

پوښتنه : لکه چې خبر شوي يو دخوست دفتحې دعملياتو په شان دگرديز دعملياتو دسوق او اداری لپاره يوه لويه اويو شمير وړی شوراگانې جوړې شوي وي ، که په اوسنيو عملياتو کې ددغو شوراگانو نقش په هکله لوستونکو ته ځه معلومات ورکړی .

ځواب : دگرديز دجنگ داداری لپاره چې کومه لويه او يو شمير وړې شوراگانې جوړې شوي وي هغوی خپلو مسوليتونو ته متوجه نشولې ، اوخپله وظيفه يې په ښه صورت سره سرته نده رسولې اوغيزمن رول يې نه لوباوه .

پوښتنه : لکه چې معلومه شوه دگرديز په اوسنيو عملياتو کې مجاهدينو په ځينو استقامتونو کې په برياليتوب سره ډېر مخکې ولاړل ، خو په ځينو برخو کې لازم پيشرفت ونشو ، ستاسې په نظر ددې اصلي عامل ځه ؤ ؟

ځواب : مجاهدينو دگرديز په شمال ، شمال غرب ، شمال شرق په استقامتونو کې دپام وړ عمليات ونکړل او علت يې دا وو چې دمربوطه شوراگانو تر منځ په دغو استقامتونو کې هم آهنگي موجوده نه وه دشرق په طرف کې مجاهدينو په اول وخت کې ډېر پيشرفت وکړ خو ځرنگه چې په دفاعي سيستم کې تجربه نه درلوده اوپه خپله دشرق شوراگانو تر منځ هم آهنگي موجوده نه وه نو عقب نشيني ته مجبور شول ، دغرب په طرف کې مجاهدينو په اول وخت کې ډېر پيشرفت وکړ خو ځرنگه چې نورو تنظيمونو خپل منځي مرسته نه وه موجوده او ځنې اندازه داراضي مشکلات هم موجود وو .

او البته په دفاعي نظام کې هم بې نظمي موجوده وه او دپلان مطابق دفاعي خط نه جوړيده اوله بله طرفه ددښمن دزيات فشار له امله دی ته مجبور شول چې پيشرفت ونه کړي .

دجنوب په طرف کرچه ددښمن دفاعي نظام ډېر قوي وو او دښمن خپل قوت دوسلې اوافرادو په تناسب ډېر متمرکز کړی وو خو دمجاهدينو لخوا دقوی اوپرله پسې تعرضونو له امله دادفاعي خط مات شو او دښمن يې غير مترقبه عقب نشينۍ ته مجبور کړ ، البته پدې استقامت يو داچې زموږ تنظيم دخپلو مجاهدينو تر منځ په عملياتو کې هم اهنگي او مرسته موجوده وه او اکثريت هغه دمجاهدينو جزوتامونه په دې استقامت ځای پر ځای شوي وو چې په خوست کې يې په تعرض او مدافعوي جنگونو کې پوره تجربه او مهارت پيدا کړی وو نو په دې اساس يې دښمن ته غابس ماتوونکی ځواب ورکړ ، اودښمن ته يې دا اجازه ورنکړه چې پر دوی باندې ديو اوبل طرف ځخه مانور اجرا کړي او فتح شوی منطقې بيرته له مجاهدينو ځخه ونيسي .البته مخکې له دې به چې دښمن وغوښتل چې دجنوبي محاذ په يوه طرف باندې تعرض مانوراجرا کړي مجاهدينو به ستراتيژيکي او اساسي نقطې نيولې وې او دښمن به حيران پاتې شو .

مجاهد وروور ډاکټر نصرت الله دنورو مجاهدينو سره

پوښتنه : داسې معلومه شوه چې دگرديز داوسنيو عملياتو په جريان کې دکابل گرديز عمومي لاره خلاصه وه آيا مجاهدين په دې ونه توانيدل چې لاره بنده کړای شي اوکه نه يې غوښتل چې لاره بنده کړي ؟

ځواب : دتيرې دلارې دنه بنديدلو علت زما په نظر دادی چې له يوه طرفه داسې يو منظم قوت دتيرې په استقامت نشته چې هغه وکولای شي چې ددښمن زيات فشار سره مقاومت وکړي او نيول شوی منطقې په خپل کنترول کې وساتي اوبل طرفه دمجاهدينو کوم قوتونه چې دتيرې سرک پر دواړو خواو کې پراته دي خپله هم آهنگي نه ساتي او خپل قوت په کتلوی صورت سره نه استعمالوي ، البته بل عامل يې زما په نظر دادی چې دتيرې دلارې بندولو لپاره تکليف ايستل اوقرباني ورکول دي او اکثريت

پاتې په ۷ مخ

له آزاد خوست نه‌تر . . .

پوښ غوړیدلی ، په شونډو
تبسم خوردی ځوانان دی
ټوپك پر غاړه دجګړې ډګر ته
روان دی ، خو ته به وایی
کومی ښادی ته روان دی ،
جشن ته ، میلی ته اویاهم
کومی بلی خوښی ته ، پاس
دالوتکو کړسهار شی ، هره
شیبه ددی احتمال وی چی
اوس به غټ غټ بمونه
رااوری خو څوك داسی نه
ګڼی چی پاس مرغی تیری
بیری شوی که څه ! یو ځای
په خاورو او ختو لړلی
امبولانس په مخه راځی په
امبولانس کی دوه تنه ټپیان
دی ، دننګ له ډګره یی راوړی
دی ، جامی یی په وینو لمدی
خیشتی دی ، ورو ورو زګیروی
کوی خو په ماحول او
دځوانانو په ډلګی هیڅ اثر نه
کوی ، دلته نور ماتم
سرخوړلی دی ، مرګونه وژل
شوی دی ، په مرګ خلك
ملنډی وهی .

> عجیبه ده یوي خواته دکمونیزم ځلي
> ورانیږي ، اثار او نمونې یې ورځ په ورځ له
> منځه ځي ، خوبلې خواته ورو ورو زموږ
> دمجاهد ملت دبرحق جهاد دافتخاراتو ځلي
> لالوړیږي اوپخیږي

ماته یو دتوری ډیری مجاهد
ناست دی ، خپلی کارنامی
بیانوی دومره عادی لکه عادی
خبری ، دسنګرونو دنیولو
کیسی ، دسترو سترو فتحو
کیسی اودشهادتونو او
قربانی کیسی کوی ، زما
بدن میږی میږی شی خو
ددغه ځوان په څیره ، خبرو او
حالت کی هیڅ ډول غیر عادی
نخښه نشته بلکل عادی دی
ته به وایی هسی دکښت او
کروندی خبری کوی ، پر
پوسته ورختلی دوولس تنه
شهیدان یی په یو ځل ورکړی
دی خو ته به وایی لکه دولس
مرغان یی چاوژلی وی په
مرګونو ور روان دی دمینونو
جال غوړیدلی دی هاوانونه او
توپونه پری غړمبیږی ، خو
دټاکل شوی مورچل په لوری
ور روان دی کیسه داسی
کوی لکه څوك چی وایی پټی
ته روان شوم غنم می وریبل
بیرته راستون شوم .
پوستی یی فتحه کړی
ټانګونه یی سوځولی ،
غنیمتی وسلی یی په غاړه کی
دی فاتح راستانه دی خو ته
به وایی چی له فصل نه
راغلی او یو دشوتلی پنډ یی
پر شا دی ...

دلته دی چی سړی ته یوه
نوی دنیا سترګو ته دریږی ،
دلته دی چی سړی په واقعیت
پوهیږی ، دغه ده حقیقی
دنیا له داسی ارادونه به
سپینه مانی او کریملین ولی
په لړزه نه وی ؟
داسی ایمانونه به
دطاغوتیانو پر هډو ولی
زلزلی نه جوړوی ؟دلته دی
چی سړی ته دطاغوتیانو
دتوطئو پوره ژور تیا
څرګندیږی ، موږ چی په کومه
نړی کی اوسوډیره له داسی
حقیقتونو نه ناخبره او نا
اشنا ده ، دلته خو شهادتونه
دی ، دشهادت کاروانونه دی
دقربانی او ایثار قافلی دی ،
دالله اکبر شعارونه دی چی
بدرګه کیږی او غازیان دی
دخپل ټوپك پر ګولیو ناڅه دی
چی دفتحی جشن به پری
لمانځی ، ددښمن وروستی
ځالی به پری ځنی ، زه چی
څوك وینم له څیرونه یی
خوښی له ورایه ځلیږی ،
سترپا او ستومانی نه پیژنی
، له ارادونه یی داسی
ښکاری چی یا دشرافت ژوند
، ازادی اوحریت اویا شهادت
اوبس ، نورڅه ددوی په
قاموس کی نشته دسیاست
دډګر دوړی او ګردونه دهماغه
ماحول مال او زیږنده ده دلته
خو جهاددی ، شهادت دی ،
دغزا تکبیر دی ، او همدا
دټولو پخه عقیده ده چی په
همدغه تکبیر کی مودولس
دبدلون تقدیر دی.
شپه مو په خوست کی شوه ،
په هغه خوست کی چی
دښمن به ډیر پری نازیده
موږچی په کومه بالاخانه کی
ناست وو دلته څو میاشتی
وړاندی بل څوك اوسیدل ،
هغه څوك چی یابه اوس
دخپل ناوړه عمل په جزا
محکوم وی او یا به دهمداسی
شیبو په انتظار وی ، پر
دیوالونو لیکنی دی چی دهر
چا نظر ګانته جلبوی ، په
یوه څنډه کی دڅور پرتمین ...
نیمګړی جمله ده ، چی نور
یی پری دپاسه بل شعار په
واسطه له نظره پنا شوی دی

، دغسی په کونج او کنار کی
څه دداسی لیکنو او شعارونو
سراوپښی نیمګړ ښکاری
چی دپخوانیو انقلابیانو !!
لوجود شاهدی وایی خو
اوس هغه شعارونه ړنګ شوی
ددغی کوټی په څلورو واړو
دیوالونو نوی شعارونه لیدل
کیږی له جملی نه یو ستر
شعار چی ډیر جوت دی ، «
حقانی زنده باد » دی عجیبه
غوندی راته ښکاره شوه پس
له دوولسو کالو شعار بدل شو
، له خدایه دنظام دبدلیدو
هیله هم لرو ، همدغه پخوانی
ړنګ شوی اونوی لیکل شوی
شعارونه دسړی په زړه کی
دامید ډیوی بلی کړی .
په تاخچه کی دوه دری جلده
پخوانی کتابونه دی ، دوه
یکی دلینن کلیات اویو بیا
دلینن لنډ ژوند لیك ، خو اوس
دغه کتابونه دلته داسی
ښکاری لکه دکوم موزیم په
کومه ګوښه کی ، ځکه دلینن
بیچاره خو نور په خپل
استوګنځی او هیواد کی
دمجسمو او تصویرونولاامن
نشته ... هلته یو بل کتاب هم
دی چی دسرو ګلانو پر سر
د« ابدی ژوندی » عنوان یی
سړی ځانته ورکاږی ، په
کتاب کی دهمدغو خوست
دازادی په لاره کی
دقربانیانو لنډ ژوند لیك دی ،
څومره ځوانی ددغه ښار
دنیولو په لار کی خاوری
شوی دی ، یوه وړوکی بیلګه
یی دلته په همدغه کتاب کی
خوندی ده عجیبه ده یوی
خواته دکمونیزم ځلی
ورانیږی ، اثار اونمونی یی
ورځ په ورځ له منځه ځی خو
بلی خواته ورو ورو زموږ
دمجاهد ملت دبر حق جهاد
دافتخاراتو ځلی لا لوړیږی ،
اوپخیږی او زموږ دمجاهد
ملت دقربانیو تاریخ ثبتیږی
،او خوندی کیږی ، پرون په
دغه بالاخانه کی کومه ګناه وه
چی نه به کیدله ، کوم جنایت
ؤ چی پاتی به وی ، خو نن
دګناه او جنایت دمخنیوی
لپاره غونډی پکی کیږی ،
دخدای (ج) شان ته وګوری ،
پرون به په دی بالاخانه کی
دګونګرو شرنګار ؤ ، دشرابو
بیهوشی او مدهوشی به وه
دعصیان اوبغاوت اوج به ؤ ،
خو نن دخدای (ج) دکلام
زمزمی پکی کیږی څومره
ستر بدلون راغلی دی ،
څومره ستر انقلاب راغلی

دی سور انقلاب ځپل شوی
او رټل شوی دی ، دغوایی
غوبل دلته په مرګ محکوم دی
انسانی ټولنه ده اودانسانی
اقدارو ، دراژوندی کولو
هځی ... سهار دخوست له
ښار نه دګردیز دشاوخوا په
لوری روان شوو له لمر څرك
سره سم فضا دالوتکو غږ
اشغال کړه ، دسرك پر سر
ځای ځای دخطرناکو بمونو
کندی دی ، چی همدا پرون او
ابل پرون یی غورځولی .
دلاری پر سر پراته کلی او
کورونه تر ډیره حده تخریب
دی ، ځمکی شاړی دی چی
هرڅوك یی ووینی که هر څو
په خوله چوپ وی خو ضمیر
یی ددی فاجعو پر عاملینو
لعنت ویلو ته لمسوی ، اخر
ولی ؟ ددغی ساده خټینو
کورونو داوسیدونکو ګناه څه وه
چی له دغو جونګړو نه هم
محروم شول ؟
خو خیردی که ددوی خټین
کورونه ولاړل ، ددښمن یی
پولادی ټانکونه هم ورسره
خوړین کړل ، ددښمن انجام
خویی اوس داسی دردوونکی
دی چی کله کله خوپری زموږ
هم زړه بد شی ، باید له
همدی نه نور طاغوتیان هم
عبرت واخلی ، باید وپوهیږی
، چی ددغو سپیرو دیوالونو
شاته ډیر قوی ایمانونه پراته
دی ، هردښمن چی دیوال ته
کتلی او ددیوال ترشاناستو
مستوته یی نه دی کتلی له
همدغسی دردناك انجام سره
مخامخ شوی دی سکندر ،
چنګیز ، انګریز اودادی اوس
روس هغه روس چی داپرون
دنړی پنځمه برخه ځمکه
ددوی دقلمرو جزوه خو نن
لله الحمد په شپاړسو ټوټو
ویشل شوی ده همدغه یوه
اشتباه کړی او تکرار کړی
وه.
موږ ستو کنهو ته روان یو
چی دجهادلویه سته وینو ،
پاس الوتکی همغسی په شور
او زوږ ګرځی او دوری کوی ،

دګردیز له لومړیو لیکو نه
دجګړی دډزو غږونه راځی ،
مخابری چالانی دی ، کله کله
په ګردیز کی ددښمن
دمخابری کسان دمجاهدینو
چینل ته داخلیږی، پوچی
کنځلی کوی ، کنځلی نه
دخپل ضمیر تصویر راښیی
، خپل ځان رامعرفی کوی ،
اخر له دوی نه دښو خبرو
توقع خو ګناه ده .
دنورانی بشری خاوندیو
مجاهد وینم چی دخپل مشر
په هدایت په نرمه ژبه له
خدایه سمی لاری هدایت ورته
غواړی ، له لاروړکی نه نجات
ورته غواړی دخبرو کولو اداب
ورښیی .
ګنی خبری داسی دی چی
ماته نظامی اسرار ښکاری ،
اوافشا کول یی لازم نه ګڼم
خو دمخابرو په رابطه څه
عجیب شانته انکشافات وینم
، هلته یو دوه لوډ سپیکره
تیپ ریکاردر دی چی دوه
غږونه پکی مسلسل اوریدل
کیږی یویی داکتشافی
الوتکی پیلوت دی اوبل بیا
دکومی جیټ جنګی الوتکی
موږ الوتکی نه وینوان چی کله
کله یی په فضا کی غږ هم
ورك شی خو دغه دوه غږونه
له سهاره تر لمر لویدو پوری
اوریدل کیدل ، ماته جالبه
داده چی دستو کنهو په یوه
غره کی یم ددری زرو متره
لوړی څوکی نه ډیر وطنونه
لیدی شم خو دټیپ له خولی
دالوتکو پیلوټان بیاله یوه بل
ځای څخه خبری کوی ، له
یوه داسی ځای څخه چی زه
څه زیاته دلچسپی اوجذباتی
پیوند ورسره لرم ، دټیپ له
لوډسپیکرونونه تر ډیره وخته
پوری دغه مکالمه اوریدل
کیږی .

وګوره ! هغه موټر کومی
خواته روان دی ؟
کوم موټر ښیی ؟
دلوګراو وردګو تر منځ هغه
دښتې دری په منځ کی سرك
موټر ښیی ؟
ته دهغی په باب لږ نور دقیق
شه ...
بیا لږ خبری سره ګډی وډی
شی او وروسته بیا یو ځل
صاف اوریدل کیږی هغه
دشیخ اباد هډه ده چی
دموټرو قطار پکی دریدلی دی
ښه ده ته یی څاره چی موټر
کومی خواته ولاړ نشی زه
ضربه ورکوم !
دلته هرڅوك په خپل خپل غم
کی ورك دی ، ماته له دی
غمونو سره اوس بل غم هم
راپه غاړه شو ، دشیخ اباد
هډه می سترګو ته ولاړه ده
هلته چی زیات بیرو بار وی ،
موټر وی ، دوکانونه وی او
زموږ هیواد وال وی چی
هرڅوك دخپل ضرورت
ورشیانو تر لاسه کولو لپاره
دلته راځی .
ترسترګو می سری لمبی شی
، دخیال په پرده می دشیخ
اباد په بازار کی توری
لوخړی راشی چی اتڼ کوی
او مار پیچی پورته فضا ته
پورته شی سره زخمونه لکه
سره غاټول ، بی سره تنی او
بی لاسواو بی پښو بنیا دان
می تر سترګو شی ...
دالوتکو یو دروند کړسهار
دشیخ اباد دبمباری خیال
رانه والوزی ، الوتکی په
چټکی سره ډوری وخوری او
بیا وړاندی په لومړی کرښه
دمجاهدینو پر مورچلونو
بمباری وکړی ، داڅو وم ځل
دی چی نن ورځ الوتکو له
بمونو ډکی خیټی پر هغو
سنګرونو تشی کړی خو تر
اوسه پوری دخدای (ج)
فضل دی ، مخابره دخیریت
راپور راکوی «نوربیا»

> دلته دي چي سړي ته يوه نوي دنيا سترګو
> ته دريږي دلته دي چي سړي په واقعيت
> پوهيږي دغه ده حقيقي دنيا له داسي ارادو
> نه به سپينه ماڼي او کريملين ولي په لړزه نه
> وي؟

ملاقات بینن سوان با نماینده گان شورای سرتاسری قوماندانان

پشاور

دفتر سیاسی شورای سرتاسری قوماندانان گزارش داد که بینن سوان نماینده خاص پریز دیکویار سرمنشی ملل متحد طی جلسه در دفتر سیاسی شورای سرتاسری قوماندانان نکات جدید شامل شده در طرح پنج فقره یی پیشنهاد سرمنشی ان سازمان رابه شورای مذکور ارایه کرد .

در جلسه درحالیکه رئیس کمیته سیاسی وعدهٔ از اعضای کمیسیون آن شورا حضور داشتند ، روی نکات جدید از سوی بینن سوان روشنی انداخته شد .

بینن سیوان همچنان یاداشتی راکه در ان روی بعضی مواد وپراگراف های طرح قبلی نظر اندازی جدید صورت گرفته است به مسولین کمیته سیاسی شورای قوماندانان سپرد وی طی توضیحاتی گفت : چون قوماندانان جهادی درحکومت عبوری اینده افغانستان سهم ارزنده خواهند داشت نکات جدید را ارایه واظهار ارزومندی نمود که قوماندانان عضو شورا نظریات واحد و منسجم درمورد ارایه دهند .

بگزارش دفتر سیاسی قرار است هفته آینده پس از غور وبررسی لازم نظر رسمی شورای قوماندانان پیرامون طرح پیشنهادی جدید اعلام گردد .

بینن سیوان نماینده خاصی سرمنشی ملل متحد پس از سفر کابل ومذاکره با مسولین رژیم اخیراً وارد پشاور شده است .

قیام مسلمانان در جمهوری فدراسیون روسیه برای خود مختاری

مسکو، صدای امریکا :

در منطقه مسلمان نشین «چیچین انگوشیا» واقع در جنوب جمهوری فدراسیون روسیه بعد از انکه مسلمانان ازادی منطقه رااعلان نمودند ، نفاذ حالات اضطراری از جانب «بوریس یلتسین » رئیس جمهور فدراسیون روسیه اعلام گردید ولی مسلمانان ان دیار از قبول حالات اضطراری خود داری نموده ودست به قیام زده اند .

به اساس گزارش های رسیده مسلمانان این منطقه درانتخابات ماه گذشته یك رهبر محلی خویش را بحیث رئیس جمهور انتخاب نمودند ولی حکومت «یلتسین » انتخابات مذکور را غیر قانونی خوانده حکومت نظامی رادر منطقه اعلان نمودند .

خبرمی افزاید رهبران مسلمانان ازهمه مسلمانان ان منطقه خواسته اند تا اسلحه برداشته بخاطر ازادی جمهوریت به سنگرهابروند .

اطلاعات همچنان حاکیست هزاران تن از مردم این منطقه بخاطر آزادی خویش ، سنگرها ساخته اند ودست به قیام زده اند . آنهاچند میدان هوایی راتحت تصرف خویش قرار داده اند و یك طیاره مسافربری مربوط خطوط هوایی روسیه را همره با ۱۷۱ سواران به گروگان گرفته اند .

قیام کننده گان اخطار داده که آنها شهر مسکو رابه ویرانه تبدیل خواهند کرد و مراکز اسلحه اتومی روسیه را هدف فعالیت های تخریب کاری خویش قرار خواهند داد .

دملحد رژیم بی دریغه بمباری

، دعقرب ۱۸ مه :

په رارسیدلو خبرونو کی ویل شوی دی چی پدی وروستیو وختو کی چی ملحد رژیم خپل مرگ پخپلو سترگو وینی په بی گناه مسلمانانو باندی خپلو وحشی جنایاتو ته پراختیا اوچتکتیا ورکړی .

خبرونه وایی چی تیره ورځ دملحد رژیم جیټ جنگی الوتکو په ازاد کنړ ولایت کی دسرکانو په سیمه اودننگرهار ولایت په خواوشاکلیو اودمجاهدینو په مرکزونو سخته بمباری وکړه چی پکی ۳۵ تنه دحقی لاری مجاهدین او دکلیواستوگنی شهیدان اوپه سلگونوتنه سخت ټپیان شول خبرونه زیاتوی چی دمزدور رژیم ددغو وحشیانه بمباریو له کبله دیری ودانی په کنډوالو بدلی شوی دی.

یلتسین با چلینج جدید استقلال طلبی ...

بحبوحه ادعاهای ملیونهاانسان محکوم،از استقلال کامل تا اعاده حقوق اقتصادی به سمع میرسد انچه بیشتر برای مادرین گیرودار مطرح ومهم است این میباشد که جنبش اسلامی واینده خود مختاری جمهوری های اسلامی چون چیچین چگونه تعین می گرددمسلمانان جهان بخصوص مردم مسلمان افغانستان با مردم مسلمان جمهوری های محکوم روسیه همدردی زیاد دارند زیرا مردم مسلمان افغانستان تمام ان انواع جبر وستم راکه مردم مسلمان روسیه در طول بیش از شصت سال از حاکمیت جابرانه کمونست های روس متحمل شده اند احساس کرده میتوانند.مسلمانان روسیه شورروی که سخت ترین رنجها رامتحمل شده اند میدانند که باشیادی های دشمن بیرحم روبراند ومجبور اند اگاهانه وسنجیده گام بردارند زیرا دشمن دیرینه شان اکنون بالباس ظاهر فریب دموکراسی خود را اراسته وارزو دارد انها را تحمیق نموده خاطرات تلخ گذشته رااز دهن شان بدر نماید اما جنبش اسلامی در روسیه یقینا از واقعیت مسلم واقف است که اعتماد بردشمن بیرحم دیرینه اشتباه وعواقب جبران ناپذیر به انها خواهد داشت .

د ۷٤ مې کلیزی په لمانځلو سره

په روسیه کی کمونست گوند له منځه ورل اعلان شول

مسکو دعقرب ۱۸مه :

دنړیوالو خبری منابعو دخبرله مخی په روسیه کی دکمونست گوند دتاسیس د۷٤ کلیزې په لمانځنی سره دتل لپاره له منځه لاړ خبرونه وایی چی دکمونست گوند د۷٤ کال دلمانځلو په مراسمو کی دروسی فدراسیون جمهور رئیس بوریس یلتسین دکمونست گوند په ټولو فعالیتونو بندیزونه ولگولو.

دتاس خبری اژانس دخبرله مخی ویل شوی دی چی یلتسین یوه اعلامیه خپره کړه چی هغی کی یی دکمونست گوند دمنحل کولو حکم صادر کړی و اوور سره ور سره یی ددغه گوند دټولو عایداتو اوپانگو ددولتی گرځولو امر هم کړی ؤ په اعلامیه کی زیاته شوی ده چی دناکامی کودتا څخه په داگه کیږی چی دکمونست گوند کوم قانونی اواصولی گوند نه بلکی دامرانو او جنایتکارانو یو ټولی و.

د«کی ، جی ، بی »، «خاد» او»را» دیوه تخریبی پلان افشا

کراچی ، دعقرب ۱۷ مه :

په پاکستان کی دکی ، جی ، بی ، خاد او را یو گډ تخریب کاری پلان افشا شو، په خبرونو کی ویل شوی چی دپاکستان دکراچی په ښار کی په تیری اونی کی دیوی ورځی په موده کی څلور زورداره چاودنی وشوی ، چی دهمدی تخریبی پلان جز و ددی تخریب کاری پلان داسی وو چی دپاکستان په ټولو لویو ښارونو کی به په همدی ډول چاودنی کوی اودویری اچونی فضا به رامنځ ته کوی .

په خبرونو کی ویل شوی چی دغه تخریب کاران دچاودنی نه مخکی دمنفجره موادو دتیارولو لپاره دریل گاډیو دمرکزونو دموټرو داډو اوسینماگانو ، تشنابونه استعمالوی .

دپاکستان دپنجاب ایالت حکومت چی دهغی ځای پولیسو دغه پلان کشف کړی دنورو ښارونو پولیسو ته هدایت ورکړی چی ددی ډول پلانونو دشنډولو لپاره اماده اوسی .

دافغانستان دسولی پروسه او دظاهرشاه ...

هیواد کی سوله راتلای شی ، نو بیا ولی دروسانو دټپل شوی رژیم پر ضد دغه خونړی جگړه پیل شوه ، چی ددیارلس کالو په ترځ کی یی د۱٦ لکه بی وزلیو انسانانو پر مرگ سربیره ، زموږ ټول هیواد لوټه لوټه کړ ، اوزموږ بی وزلی ولس یی دجگړی په اورستی کړ.

داچی ظاهرشاه په خپل تیر څلویښت کلن تور دورکی زموږ ولس ته څه ورکړل دوطن او ملت لپاره یی څه وکړل ، اوبالاخره یی دتیښتی په وخت له ځان سره څه یوړل ، هغه بحث دی چی دتیروڅو کلونو په ترځ کی جهادی اخبارونو اونشراتو او حتی کتابونو پری پوره بحث کړی ولی راځی په دی مسئله دواقعیتونو او حقیقتونو په بنسټ قضاوت وکړواو وگورو چی ایا ظاهرشاه په رښتیا دافغانستان دسولی په پروسه کی رول لوبولای شی؟ دڅو تیرو کلونو په ترځ کی پوره په ډاگه ده چی په پیښور کی میشته دمجاهدینو موثرتنظیمونه چی دافغانستان په دننه او بهر کی دهغوی له افرادی قوت او سیاسی پرستیژ څخه څوك سترگی نشی پټولای ، ظاهرشاه دافغانستان داوسنیو کړاونو اصلی عامل بولی او حتی پدی جرم دهغه دمحاکمی غوښتونکی دی په همدی ترتیب گوروچی دهیواد په داخل کی هغه جهادی ځواکونه او قوماندانان هم چی دروسانو او بیاتراوسه دټپل شوی رژیم پر ضد دمقاومت لویه هسته تشکیلوی دظاهرشاه بیرته راستنیدل اوقدرت ته رسیدل نه یوازی دخپل مشکل حل نه بولی بلکه له هغه سره دنجیب په شان دخپل جهاد اوجگړی ددوام خبری هم کوی .

کیدای شی داسی یو شمیر افراد اوولی هم وی چی خپل غیر موثروالی ورته ښکاره دی اودلویدیز او ختیځ دتوافقاتو په نتیجه کی دظاهرشاه قدرت ته رسیدل خپل هدف ته رسیدل وگڼی ، ولی دا موضوع هیڅ کله ددی تضمین نشی کولای چی دظاهرشاه قدرت ته رسیدل به په هیواد کی سوله حاکمه کړی .

دافغانستان په گوټ گوټ کی اودهر غره او راغه په لمن کی دروسانو دټپل شوی رژیم په مقابل کی زموږ دمیړنیو شهیدانو وینی لا تازه دی ، پردیو دتجاوز او غاصبانه حملو له امله زموږ دړنگو کلیو اوکورونو خرابی لاتراوسه دپردیو دمزدورانو دظلم او زور کیسی بیانوی ،او مزدور تره کی امین ، ببرك او نجیب دوطن خرڅونی او غلامی ننگین اوله شرمه ډك داستان نه یوازی هیرشوی ندی بلکه لاادامه هم لری .

پداسی یوه فضا کی استعمار اودهغی تالیخڅی یوځل بیا غواړی زموږ دمظلوم ولس پر زخمونو مالگی ودوړوی اودظاهرشاه په څیر معلوم الحاله څیری دسولی راوستلو تر پردی لاندی زموږ پر ملت حاکمی کړی.

ولی زموږ ملت دبهر نه دټپل شویو مزدورو واکمنو یوه اوږده تجربه په مخ کی لری ، یوازی دیارلس کاله جگړه اووینی توئیدنه کافی ده چی نور دی افغانان په خپل خیر اوشر پوه وی .

دغه ملت چی کولای شی پردی یرغلگرپه پوره میړانی او شهامت له خپلی خاوری په شا تگ ته مجبور کړی ، دغه ملت چی کولای شی داسلام اووطن په لاره دتاریخ ستره قربانی وړاندی کړی، داهم کولای شی چی خپل سرنوشت په خپله وټاکی .

ظاهرشاه یا دهغه په څیر نور راحت طلبه شخصتیونه چی دجهاد په دیارلس کلنه موده کی یی داروپا ، او امریکاارامه ژوند تیراوه اوپدی ټوله موده کی یی نه دیوه مجاهد له حاله ځان خبر کړ ،اونه یی دپاکستان اوایران په دښتو کی دخدای (ج) هیلی ته پرتو مهاجرو کومه خیمه ولیده ، نن څنگه کولای شی ددی جنگ ځپلی ملت دقیادت لپاره غوره او مناسب شخصیت شی ؟

دپورتینو حقایقو په رڼا کی او دافغانستان دجهاد ۱۳ کلنی دوری ته په دقت له کتلو وروسته په صراحت ویلای شوچی ظاهرشاه دافغانستان دسولی په پروسه کی نه یوازی هیڅ ډول رول نشی لوبولای ، بلکه دهغی راتگ به دجگړی اووینی توئیدنی بهیر ته لاقوت ورکړی .

دخوست فتحي تجربي زموږ ...

قوماندانان دتیری په استقامتونو کی قربانی ورکولو ته چندان حاضر نه دی.

پوښتنه : داسی اوازی خپری دی چی دمجاهدینو ځینی تنظیمونه له روسانو سره دخبرو اترو لپاره مسکو ته خپل هیئت لیږی ، که چیری داکار وشی ، په مقابل کی یی دسنگر دمجاهدینو عکس العمل څه ډول ارزیابی کوئ ؟

ځواب : دافغانستان اسلامی انقلاب اوس داخرنی کامیابی پړاو ته نږدی شوی دی امریکایان او روسان غواړی چی په افغانستان کی داسی یومخلوط حکومت منځ ته راشی چی په هغه کی مجاهدین او کمونستان یو شان برخه ولری غربیانو ته اوس دکمونیزم له طرفه په توله نړی کی خطره ورکه شوه اوس دوی یواځی خپل حریفان مسلمانان بولی او کوښښ کوی چی په افغانستان کی اسلامی حکومت منځ ته رانشی نو که چیری دمجاهدینود ځینو تنظیمونو هئیت مسکو ته ولاړشی دا به دافغانستان پر جهاداو مجاهدینو څه اثرونه غورځوی مجاهدین دغرب اوشرق په فیصلو عمل کولو ته نه دی حاضر او په افغانستان کی دیو اسلامی حکومت تر جوړیدو پوری به خپل وسله وال جهاد ته دامه ورکوی .

زموږ داسلامي انقلاب په وړاندي ...

ایمان اوپخې عقیدي په وسله سمبال پاځون او دیوی ناانډوله جګړی په جریان کی دروس په څیر ستر الحادی اوطاغوتی ځواك ته (چی په هرډول مادي وسلو او وسیلو سمبال اوخپل قوتونه یی ماتی نه خوړونکی بلل) په نظامی ډګر کی شرمېدلی ماتی ورکولو دا واقعیت ډیرښه څرګند کړ چی دافغانستان مجاهد ملت چی کوم ستر آرمان ته درسیدو په تکل داېرحقه جګړه (جهاد) مجادله او مقابله پیل کړی ، دزوراو قوت داستعمال په وسیله دهغی مخه نیول ناشونی کار دی ، ځکه نو روسانو له افغانستان نه دتیښتی پر مهال خپلی ټولی وسلی اووسیلی خپل مزدور رژیم ته پریښودی اوهم یی دهغو په هر اړخیزه اکمالولو کی څو چنده زیاتوالی راوست، څو وی چی په دی وسیله له یوی خوا ددوی مزدورانو دمقاومت په نتیجه کی دمجاهدینو ژر بری ترېوه وخته وځنډېږی او دوی دامرقع ترلاسه کړی چی له غرب سره دګډ تفاهم اوسازش په نتیجه کی دسیاسی اودیپلوماتیکو هلو ځلو او فعالیتونو له لاری خپله شرمیدلی ماتی دنړیوالو له نظره پټه کړی اوله بلی خوا په هره ممکنه وسیله چی کیدای شی په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس دیو اسلامی حکومت دجوړیدو مخه ونیسی اودیو داسی مذبذب ، بی واکه اوبی ځواکه رژیم درامنځته کیدلو لپاره لاره هواره کړی چی په راتلونکی کی هم دوی ته پکی دپښی اینښودلو ځای موجود ، دهرډول فعالیت اولاس وهنی زمینه ورته برابره اوددوی دښکیلاکی سلطی لاندی اسلامی هیوادونو کی داسلامی غورځنګونو دپیاوړتیاله ناحیی نه یی دوی ته هیڅ ډول خطر نه وی متوجه .

په دی موضوع چی: په هره ممکنه وسیله چی کیدای شی باید په افغانستان کی دمجاهدینو په لاس دیو اسلامی حکومت دجوړیدو مخه ونیول شی ټول کفری او طاغوتی ځواکونه له روسانو سره په یوه خوله اویوه نظردی ، داچی څوك څومره اوولی دمجاهدینو په لاس داسلامی حکومت جوړیدل ځانته خطر احساسوی ، بیله موضوع ده چی دلته یی تفصیل ته ضرورت نه لیدل کیږی ، خو دومره یادونه ضروری ده چی طاغوتی اواسلام دښمنه عناصر ، هغه په شرق کی دی اوکه په غرب کی دیو اسلامی،مجاهداوځواکمن افغانستان موجودیت نشی زغملی اوټول په ښکاره اوپټه داهڅی کوی چی په افغانستان کی دیو داسی قوی اسلامی حکومت چی په راس کی یومجاهد قیادت واقع وی ، دجوړیدو مخه ونیسی او پر ځای یی داسی یو کمزوری ، ټوټی ، ټوټی ، بی واکه اوبی ځواکه رژیم منځ ته راشی چی ټولو کفری اوطاغوتی ځواکونو ته پکی دهرډول لاس وهنو زمینه مساعده وی.

همدغی هیلی ته درسیدو په تکل شرق اوغرب دیو ګډ تفاهم اوسازش په نتیجه کی دخپلو شومو پلانونو دعملی کولو لپاره ډول ډول توطئی اودسیسی په کار اچوی اوخپلی ټولی هلی ځلی یی دی ته متوجه کړی چی له یوی خوا مجاهدین دافغانستان دقضیی دسوله ایز حل په پلمه په سیاسی ډګرکښمصروف وساتی اوپه دغه وسیله جهادی سنګرونه ساړه کړی اوله بلی خوا ورته په یوه اوبله بڼه داسی وراندیزونه وکړی چی دمجاهدینو تر منځ دلیکو اودریځونو دجلاوالی اوداختلافاتو درامنځ ته کیدو او لاپسی زیاتیدلو باعث شی ، ځکه نو په دی لړ کی یوه ورځ دافغانستان دقضیی دسوله ایز حل لپاره دملګرو ملتونودسرمنشی په خوله پنځه فقره ایزه طرحه اعلانوی ، بله ورځ ورته دروسانو له مزدورانو سره دګډ او ائتلافی حکومت دجوړیدلو وایی اوپه بلهورځ ورسره په هغه اودغه هیواد کی په کنفرانسونو اوغونډو کی دافغانستان دقضیی دسوله ایز حل لاری دپلټنی یادونه کوی ، کله دروسانو استازی ددی هڅه کوی چی په یوه اوبله پلمه د مجاهدینو له مشرانو سره په ځانګړی اویاډله ایزه توګه وګوری ، کله دافغانستان دقضی دسوله ایز حل لپاره دمجاهدینو هیئت ته روسیی ته دورتللو بلنه ورکوی اوبالاخره په دی بهیر کی دومره پرمختګ کوی اوبریالی کیږی چی څوکسه دمجاهدینو دهیئت په نوم مسکو ته ورروغواړی او....

ددی ترڅنګ :طاغوتی ځواکونه دخپلو ډله ایزو نشراتی وسایلوله لاری دمجاهدینو پرضد ډول ډول زهرجن تبلیغات کوی اوپه دی توګه عام ذهنیتونه مغشوشوی اودمجاهدینو تر منځ داختلافاتودرامنځ ته کولواودصفوفودجلاکیدواو دکمزوری کیدو هڅه کوی.

دکفری او طاغوتی ځواکونو دخپل منځی سازشونو ، ګډو تفاهمونو اوپلانونو په نتیجه کی چی زموږ دجهاد اواسلامی انقلاب دناکامۍ لپاره کومی توطیئ او دسیسی طرحه اویوه په بلی پسی دعمل ډګر ته وړاندی کیږی که په عامه توګه ټول اسلامی امت اوپه خاصه توګه زموږ مجاهد ملت ، جهادی ځواکونه او قیادتونه په پوره پوهه ، ځیرکتیا اوتدبر سره دهغو دخنثی کولواوبی اغیزی کولو لپاره اوځاروونه اوسی په دی کی شك نشته چی له دغی ناحیی متوجه خطرونه به زموږ اسلامی انقلاب چی دبری په درشل کی دی له یوی ورځی نه بلی ته له زیات ګواښ او تهدید سره مخامخ کړی او ذا ویره رامنځ ته کوی هسی نه چی (خدای مه کړه) دبی ساری قربانیو په برکت ګټلی جنګ دسیاست په ډګر کی بایلو .

موږدانه وایو چی زموږ مجاهد ملت او جهادی قیادتونه دی په سیاسی ډګر کی نه مصروف کیږی ، خوداسی هم نه چی دهلته اودلته خبرو اترو اودهغه یادغه ځواك له خوا دافغانستان دقضیی سیاسی حل په تمه تری جهادی سنګرونه هیراوساړه شی ، موږ باید یوازی دلوی خدای (ج) دمرستی په تکیه او دوسله وال جهاد دادامی له لاری پر دښمن باندی پخپل وروستی بری ډاډه اوسو .

ومن الله التوفیق

په بیروت کی دامریکا پوهنتون په بم والوزول شو

بیروت ، فرانس پرس اژانس :

دبیروت په ښار کی دنومبر د۸ می نیټی په سهار دبم یوه زورداره چاودنه وشوه چی په هغی کی په دغه ښار کی دامریکا پوهنتون ټوله ودانۍ ویجاړه شوه ولی دځانی تلفاتو په هکله تراوسه کوم راپور ندی خپور شوی .

دلبنان دپوځ یوه متخصص ویلی چی دغه بم ډیر قوی وو او کم ترکمه ۲۰۰ کیلو ګرام وزن یی درلود .

دغه چاودنه دمنځنی ختیځ دسولی دکنفرانس په اړه دعربانو دعکس العمل یوه نښه بلل کیږی ، کوم چی دغه ډول کنفرانسونه دعربو دتباهی لپاره یوه پلمه بولی اودهغی دنتایجو له منلو نه انکار کوی .

په فلپین کی وژونکی طوفانونه

مانیلا ، دالمان آژانس :

دفلپین په منځنی سیمو کی دتیری اونی دسختو طوفانونو له امله دمړو او ورکو کسانو شمیر ۶۰۰۰ تنو ته رسیدلی چی دنورو تلفاتو دانکشاف ویره هم شته .

خبرونه وایی ددغه طوفانونو له امله ټولی ارتباطی لاری قطع شوی ،اولدی امله دهغی دقیق شمیر لاتراوسه هم ندی معلوم ، دفلپین حکامو ویلی چی ددی طوفان له امله یو زیات شمیر خلك تراوسه ورك دی ،اودمړیو په شمیر کی دزیات والی امکانات نورهم شته .

همدارنګه ویل شوی چی تقریباً ۵۰ زره کورونه له منځه تللی دی ، دهوا پوهنی یوه اداری ویلی دی چی دطوفان فشار اوس کم شوی دی ، دنړیو رپوټونو له مخی ویل شوی چی یولك انسانان ددی سیلابونو له امله بی کوره شوی دی .

په مسکو کی دخوراکی موادو قلت

مسکو دعقرب ۱۷ مه :

دروسیی په مرکز مسکو ښار کی دخوراکی موادو دشدید قلت له امله دکوپون سیستم رواج کړای شویدی .

په خبرونو کی ویل شوی چی دمسکو ښار دوکانونه او مغازی دخوراکی موادو تخه تشی دی اوپه ښار کی په ډیر مشکل سره خوراکی مواد لاس ته راوړل کیږی .

دخوراکی موادو داخیستلو لپاره دولسی وګړو اوږده اوږده قطارونه دمغازو اودوکانونو مخی ته ښکاری چی دکوپون په وسیله دخوراك لپاره یو تخه ترلاسه کړی .

په تاجکستان اودوشنبی کی تردی دمخه دکوپون سیستم رواج شوی دی او دارمنیا جمهوریت له څو کلونو راپدی خوا دقلت اولوږی سره امخامخ دی .

دادکمونیزم دمنحطی نظریی سوغات دی چی لوږه فقر او بدبختی به اددی ټولنو انجام وی.

دهیواد په تودومورچلو کی

کابل :

دکابل ولایت نه دمیډیا درپوټ له مخی ویل کیږی چی دکوه صافی مجاهدینو درژیم دقواوو هغه هوایی او ځمکنی برید چی دعقرب په ۸ مه دمجاهدینو پر مرکزونو تر سره شو ، دبی شمیره مرګ ژوبلی په اړولو سره په شاتمبولۍ درپوټ وایی دغه حمله دبګرام پر هوایی ډګر دمجاهدینو ددرنو وسلو تر بریدونو وروسته تر سره شوه ، او دښمن دزیاتو تلفاتو په منلو په تیښته مجبور شوی،په رپوټ کی دتلفاتو دقیق شمیر ندی معلوم .

لوګر :

به اساس ګزارش میدیا مجاهدین دلیر ولایت لوګر طی حمله برپوسته های نظامی رژیم بتاریخ ۱۰ عقرب در مرکز این ولایت یك عراده تانك زرهی ، شش عراده وسایط نقلیه ویك دیپوی مهمات نظامی رژیم را حریق نموده اند .

خبر می افزاید قوای رژیم مزدور فردای آنروز قریه های مسکونی ومراکز مجاهدین را هدف سلاح ثقیله خویش قرار دادند ، که باعث وارد آمدن خسارات مالی به اهالی منطقه ګردیده.

کندهار:

په کویټه کی دمیډیا نمایندګی خبر ورکړی چی دکندهار مجاهدینو دعقرب په ۱۰ مه نیټه ددی ولایت دډند ولسوالی کی دکابل رژیم دکوه نګار پوځی قرارګاه فتحه کړی ، ۸ تنه عسکراو ملیشه یی وژلی یوشمیر نور یی ټپیان او ۱۰ تنه یی اسیر نیولی دی،پدی جګړه کی مجاهدینو دوه میله هاوان ، دوه میله راکټ ، یو میل دهشکه ، دوه میله پی کا ۱۲ میله کلاشینکوفونه ، دمخابری دستګاه او یوه اندازه مهمات په غنیمت نیولی دی .

هرات :

میډیا به اساس پیام مخابروی تورن اسماعیل خان قوماندان هرات ګزارش می دهد که مجاهدین این ولایت بتاریخ ۱۰ عقرب مراکز دشمن را در نقاط مختلف ولسوالی ژنده جان هدف اسلحه دوربرد قرار داده ، ٤ سنګر مستحکم رژیم را ازبین برده ویك عراده تانك زرهی راطعمه حریق ساختندطی این حملات تعدادی از کار کنان خاد رژیم هلاك و ۹ تن دیګر زخمی شدند .

در خبراز حریق مهمات نظامی دشمن نیز ذکر بعمل امده است .

ننګرهار :

دننګرهار څخه دمیډیا درپوټ له مخی ویل شوی چی درژیم دهوایی قواو الوتکو دعقرب په ۱۵ مه او ۱٦ مه نیټه دجلال-آباد ښارپه شاوخوا کی دمجاهدینو آزادی سیمی تربرید لاندی نیولی دی اودیو شمیر بی وزله خلکو دشهادت اوټپی کیدنی سبب شول.

خبر وایی درژیم الوتکو دچپرهار علاقه داری ، درګو ، شولانی ، هدیدخیلو اوغازی آباد سیمی اوهمدارنګه دشینوارو ولسوالی ځینی سیمی تربرید لاندی راوستلی ، چی دعامه وګړو دکورونو دړنګیدو او ځانی تلفاتو سبب شوی ، ویل شوی چی دغه بمباری دمجاهدینو دبریدونو دغچ اخیستلو په خاطر شوی دی .

په نیول شوی کشمیر کی دمجاهدینو او هندی پوځیانو تر منځ نښتی

کشمیری مجاهدینو دسرینګر راډیو استیشن وران ویجار کړ

پاکستان ورځپاڼه ، دعقرب ۱۸ مه :

په یو خپورشوی خبرکی ویل شوی دی چی په نیول شوی کشمیر کی دکشمیری مجاهدینو غورځنګونو چټکتیا موندلی.خبرونه وایی چی مجاهدینود لاسی بمونو په غورځولو سره دسرینګر په راډیو استیشن حمله وکړه چی په نتیجه کی دراډیو استیشن ودانی سخته زیانمنه اوڅلور تنه هندی پوځیان ووژل شول .

دیوه بل خبرله مخی ویل شوی دی چی دنیول شوی کشمیر په بیلابیلو برخو کی دشهیدانو دورځی دلمانځلو په مناسبت ددریمی ورځی لپاره هم اعتصابونه جاری وساتل شول که څه هم پوځیانود دوکانونو په بیرته ساتلو کی له ډیر وحشت څخه کار واخیست.داعتصاب په دغه ورځ دتل ګیت کاوندا ، ګاوکول برینااوادی ، صبه کول ، اوپه ځینو نورو سیمو کی دمجاهدینو او هندی پوځیانو ترمنځ خونړی نښتی شوی چی پکی بی شمیره پوځیان مړه او ټپیان شول.خبرځای زیاتوی چی مجاهدینو په نواب بازار کی دیوه بم په واسطه سره دهندی پوځیانو یوه پوسته له منځه یووړه چی پکی دوه تنه پوځیان مړه اوڅو ولاړه پوځی لاری له منځه لاړه، په همدی تر تیب خپاره شوی خبرونه داهم وایی چی په نیول شوی کشمیر کی دمجاهدینو له خوا تښتول شوی دوه تنه چی یو یی یو فرانسوی انجینر اوبل یی دهندی پوځ یو ډګرمن دی تراوسه پوری نه دی پیدا شوی،دغه کارهندی واکمنان له سخت تشویش سره مخامخ کړیدی .

دهیت تحریر تر نظر لاندي

مکاتباتي پته

پوست بکس (۱۰۳۳)

یونیورسټي ټاون پیښور

ټیلفون : ۸۱۲۸۸۱

کمپوزر: احمد ضیا «ذهین بابري»